


# څه ډول غسل وکړو؟

Ketabton.com

## خلاصه د فصل

د چپټر  په لوستلو سره به تاسی د غسل طریفه او ډولونو سره په مکمل ډول اشنا شی

راټولونکی:د دعاء محتاج

(c) ketabton.com: The Digital Library

**الحمدلله الذی هدنا الی الاسلام و ما کنا لنهتدی لولا ان هدانا الله هو الرحمن علم القران خلق الانسان علم البیان هو الرب الاکرم الذی علم بالقلم علم الانسان مالم یعلم له الحمد کما یمبغی لجلال وجهه و عظیم سلطانه و جلیل انعامه الذی علمک مالم تعلم و کان فضل الله علیک عظیم.**

**وصل الله تعالی علی خیر خلقه الذ ارسله الی کافه الناس بشیراً و نذیراً وصلی الله تعالی علی خیر خلقه و اصحابه اجمین.**

**آما بعد:**

**فقد د دعاء محتاج**

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت عایشه رضی الله تعالی عنها فرمایی: چې کله به رسول الله ﷺ د غسل اراده اوکړه نو غسل به یې داسی کولو چې مخکښې به یې خپل دواړه لاسونه مړوندونو پورې ووینځل بیا به یې اودس کولو څنګه چې مانځه لپاره اودس کولو.بیا به یی به رسول الله ﷺ خپل ګوتی مبارکي په اوبو کښې دننه کړه او په هغې به د ویښتو بیخ خلالولو بیا به یې خپل سر باندی دری لپه اوبه اچولی بیا به یی په ټول بدن باندی اوبه واچولی(بخاری شریف،مسلم شریف)

حضرت عایشه رضی الله تعالی عنها فرمایی: چې به رسول الله ﷺ نه د هغه سړی په باره کې پوښتنه وشوه کوم چې د خوب نه پاڅیدو  سره په خپل کالیو باندی د مني لوندوالی محسوس کړی؟

نو رسول الله ﷺ وفرمایل: چې غسل به کوی

او د داسی سړی په هکله هم تری پوښتنه وشوه کوم چې د خوب نه پاڅیدو سره شیطان دوکه کول یاد وی خو پر جامو یا کالیو کوم لوند والی یا چاپونه نه محسوسوی؟

نو  رسول الله ﷺ وفرمایل چې په هغه غسل واجب ندی

بی بی ام سلیم رضی الله تعالی عنها پوښتنه وکړه: که ښځه هم دا لوندوالی ووینی نو په هغې غسل واجب دی؟

نو رسول الله ﷺ ارشاد وفرمایه: هو ښځه هم په دی معامله کې د سړی په مثال ده(ترمذی شریف)

یعنی کوم سړی یا کومه ښځه چې د خوب نه پاسیدو او په خپلو کالیو یی لوندوالی او یا چاپونه محسوس کړ نو هغوی باندی غسل واجب ده او که لوندوالی او چاپونه نه ښکاره کیدل نو غسل واجب نده

د حضرت علی(رضی الله تعالی عنه) نه روایت ده چې رسول الله(ﷺ) چا چې د جنابت په غسل کې یو تار ویښته هم وچ پأتی شو او هغه یی ونه وینځلو نو هغه ته به داسی داسی  د اور عذاب ورکول کیږی. د حضرت علی(رضی الله تعالی عنه) وفرمایل چي ما خپل سر سره دښمنی اوکړه( یعنی خپل سر اوخریلو چي هسی نه زما په سر کی کومه حصه وچه پاتی شی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

يعنى سوک چې غسل کوی هغه ته پکار دی چی د بدن ټولو حصو ته اوبه ورسوی او که د يو تار ويښته کدر ځای وچ پاتی شو نو غسل يی ونه شو او ځآن يی د جهنم مستحق وګرزوه ځکه چې غسل د ونه شو نو ټول ورځ به د جنابت يعنی په غسل کی وی او دا لويه تباهی ده د ښځه بايد ځان وساتل شی او په غسل کې خه کوشش وشی چی هيڅ ځای وچ پاتی نشی.

د حضرت انس (رضی الله تعالی عنه) يو لوی صحابی ده لس کاله يې د رسول الله(ﷺ) خدمت کړی هغه مبارک په يو لوی حديث کې فرمايی چی ماته رسول الله(ﷺ) وويل ای انس (رضی الله تعالی عنه) په غسل کی مبالغه کوه (يعنی غسل دربآندی واجب شی او لامبی نو په لامبلو کې مبالغه يعنی ښه ډير کوشش کوه نو بيشکه ته به د غسل خانی څخه په داسی حال کې راوزی چي هيڅ ګناه به دی نه وی پاتی

دی ګناه څخه د صغيره ګناهونه مراد دی

انس (رضی الله تعالی عنه) وايی ما بيا عرض وکو يا رسول الله(ﷺ) په غسل کې د مبالغی کولو څه طريقه ده نو رسول الله(ﷺ) وفرمايل چی طريقه يې دا ده چی د ويښتانو بيخونه ښه لمدوی او بدن ښه صفا کوی

د غسل په وخت کې د بدن صفايی په مړلو سره مستحب ده ځکه چې ښه صفايی په دی سره راځی نه سرف په اوبو اچولو سره

رسول الله(ﷺ) انس (رضی الله تعالی عنه) ته د شفقت په طور وفرمايل ای زما بچوړيه که ته هر وخت په اودسه کې اوسيدلی شی نو دا ډيره ښه ده(دا هم مستحب ده)

ځکه چې د اودس په هال کې سوک مړ شی هغه د شهادت ثواب مومی(ابويعلی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مسایل په غسل کې

**۱)مسله:** په غسل کی دی په اوبو اچولو کی ډیر زیاتی نه کوی او ډیر کمی دی هم نه کوی قبلی ته دی مخ نه کوی خبری د نه کوی بلکی څه دعا د هم نه لولی په داسی ځای کی د غسل کوی چی څوک یی نه وینی پس د غسل نه دی تولیه یا ځان پاک باندی ځان وچ کړی.

**۲)مسله:** ښځه چی لامبی نو ګوته بنګړی و غیره د ښه اوګرزوی را وګرزوی د دی د پاره چه هغه لاندی حصه ته هم اوبه ورسی خو که دومره ازاد وو چی بی خوزولو هم د هغی لاندی اوبه رسیدی شو بیا خوزول یی مستحب دی.

**۳)مسله:** که سړی د خپلی ښځی سره په یو شپه مثلا څو واری کوروالی وکړی نو چی په اخره کی غسل اوکړی دا یو غسل کافی دی لیکن غوره دا ده چی ده هر دوو په مینځ کی یو ځل اولامبی یا اودس وکړی

**۴)مسله:** که په یو سړی باندی د جنابت غسل وو او د څه خوړل یا څکل نو اول د لاسونه ومینځی بیا د خوله کنګال کړی نو بیا د خوراک او څکاک وکړی.

**۵)مسله:** غسل کونکی ته پکار دی چی اول په زړه کی د غسل اراده وکړی بیا دواړه لاسونه د مړوندونه پوری اووینځی بیا د استنجا ځای اووینځی بیا که بدن پوری پلیتی وی هغه دی اووینځی بیا د اودس وکړی د اودسه نه پس دی دری ځلی په خوله کی اوبه  واچوی  غړغړه به کوی که روژه وه نو غړغړه به نه کوی بیا به په پوزه کی دری ځلی اوبه واچوی که روژه نه وه نو اوبه به راخکی او که روژه وه نو اوبه به نه راخکی بیا به په سر باندی اوبه واچوی او بیا به په دواړو اوږو باندی بیا به ښه په ځان باندی لاس اومږی را اومږی چی ټول ځایونو ته اوبه اورسی غوږونو کی به ګوتی دننه په نوم کی به ګوته ګرزوی په ټولو ځایونو کی به لاس مږی چی ښه صفا شی او بیا به په ټول بدن باندی اوبه واړوی چی د یو وینښته برابر ځای هم اوچ پاتی نه شی.

**۶)مسله:** د غسل په وخت کی به قبلی ته مخ نه کوی او خبری به نه کوی او غسل نه وروسته به پس زر ځان پټ کړی یعنی جامی به زر واچوی خپل عورت ته به نه ګوری بغیر د ضرورته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷)**مسله:** که په نوکانو کی اوږه اولړیده اوچ شول او لاندی یې اوبه ونه رسیدی نو غسل اونه شو په دی مرض کی اکثره زنانه گرفتاره دی

۸)**مسله:** که په ټول بدن کی د یو ویښته هومره ځای هم اوچ پاتی شی نو غسل نه کیږی دغه شان که خوله یا پوزه ته اوبه اچول هیر شو نو هم غسل ونه شو.

۹)**مسله:** په غوږ او په نوم کی به هم کوشش کوی چی اوبه ورسی او که ونه رسیدی نو غسل نه کیږی.

۱۰)**مسله:** که په غاښونو کی یی داسی څه څیز نښته وی چی د هغه په وجه د غاښونو مینځ ته اوبه ونه رسیدی نو گوتو باندی دغه څیز لری کړی د دغه څیز که په غاښونو کی وی نو غسل نه کیږی

۱۱)**مسله:** په تندی یی افشان څه تینگ رنگ و غیره یا په ویښتو کی گوند و غیره داسی څه لگولی وو چی ویښته نه لوندیده یا د رنگ نه لاندی څرمن اوچه پاتی کیده نو غسل نه کیږی.

۱۲)**مسله:** په غسل کی یو یو ویښته د جړو سره وینځل فرض دی او که ښځی ویښته پرانستی وی نو په غسل کی دغه وینځل فرض دی او که کمڅی شوی وی نو دهغه پرانستل ضروری نه دی بلکی د هغه بیخونه لوندلو فرض دی خو که د خلاصولو نه بغیر بیخونه لوندول ناممکن ول نو د هغی پرانستل او د ټولو وینځل فرض دی.

۱۳)**مسله:** بعضی زنانه پخپلو نوکانو باندی نوک فالش یعنی د نوکانو رنگ لگوی د داسی قسمه زنانو نه اودس کیږی نه یی غسل کیږی او دا ډیره د افسوس خبره ده خو زمونږ په معاشره کی اکثره خلک د دې مسلی نه ناخبره دی دا ټول دوی د بی علمی د وجه نه دی افسوس  دا داسی قسمه زنانو په حال باندی ځکه چی د دوی اودس ونه شی نو مونځ به څنگه وشی بلکی د دوی یو عبادت هم نه قبلیږی ځکه چی دوی باندی کله غسل واجب شی د دوی غسل خو نه کیږی نو عبادت به یی څنگه قبول شی نو باید تاسو په خپل کورنو کی خپل کور ولا ته خپل زنانو ته  دا اهمه مسله بیان کړی او بل داچی مونږ او تاسی باید په غسل کی ډیر زیات کوشش وکو ترسو په غسل کی مونږ او تاسی څخه کوم زای وچ پاتی نشی

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله(جل جلاله) د مونږ ټولو ته توفيق راکړی چی په دی باندی عمل وکړو او د غسل ډير زيات خيال وساتو

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**